

UN WOMEN

# د کوید-۱۹ وبا په هکله د جنډر پوهاوی | افغانستان

د ۲۰۲۰ کال د می میاشتې ۷مه نېټه

## دریمه ګڼه: د ښځو، سولې او امنیت اجنډا پر پلي کولو د کوید-۱۹ وبا اغېزې

د جنډر اړوند تېرو پوهاویو په تعقیب[1] په افغانستان کې د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو دفتر لخوا دا د پوهاوي دریمه خپرېدونکې ګڼه ده چې په افغانستان کې د کوید-۱۹ وبا له امله پر جنډر داغېزو دوام تربحث لاندې نیسي. د پوهاوي په دې ګڼه کې د ښځو، سولې او امنیت له پلوه د کووید-۱۹ وبا پر اغېزو تمرکز کوي. په دې ګڼه کې هم د تېرو ګڼو په څېر د جنډر اړوند مهمې اغېزې تربحث لاندې نیول کیږي، خو د دې ترڅنګ په ښځو پورې پر تړلیو ځانګړیو خطرونو، مدني ټولنې پر سازمانونو، او حقوقو پر هغو مدافعینو رڼا اچوي چې په افغانستان کې د پایېدونکې اوږدمهاله سولې د رامنځ ته کولو ترڅنګ پر هغو فرصتونو هم تمرکز کوي چې له مخې یې ښځې کولای شي په تصمیم نیونه او خپل هېواد د راتلونکې په جوړونه کې د دوی د حقونو لاسرسی باوري کوي. د یادونې وړ ده چې په دې ګڼه کې هغه بېړنۍ اړتیا هم تربحث لاندې نیول کیږي چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ نمبر پرېکړه لیک (۲۰۱۹-۲۰۲۱) سره سم د افغانستان د ملي کاري پلان دوام پلي کول باوري کوي او همدارنګه د جنډر د کوېډ-۱۹ وبا پر وړاندې د هغې اوږدمهاله پلي کېدا څرنګوالي باوري کوي چې د جنډر د تساوي د برابرۍ سبب کیږي.

په دغه پوهاوي کې د ملي او نړیوالو شریکانو د پاملرنې په موخه د سپارښتنو یوه ټولګه شاملیږي، ترڅو د افغانستان د دغې حساسې مودې په جریان کې د ښځو، سولې او امنیت اړوند آجنډا[2] بشپړ پلي کول باوري کړي. په افغانستان کې د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو دفتر د افغان دولت، ملګرو ملتونو، او ملي او نړیوالو همکارانو ملاتړ ته ژمن دی، ترڅو د ښځو، سولې او امنیت اړوند خپله آجنډا په پلي کولو کې پرمختګ وکړي. په افغانستان کې د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو دفتر په افغانستان کې پایېدونکې سولې او پرمختګ ته د بنې او شکل ورکولو په موخه د رهبرۍ، تخصص

[1]Issue I: Gender Alert on COVID 19 in Afghanistan: Ensuring a Gender Sensitive Humanitarian Response, UN Women (24 April 2020) and Issue II: Gender Alert on COVID 19 in Afghanistan: Ensuring Access to Services for Survivors of Violence Against Women and Girls, UN Women (30 April 2020).
[2]UN Women supports women's full and equal representation and participation in all levels of peace processes and security efforts. UN Women's work on women, peace, and security is guided by 10 UN Security Council resolutions—2467 ,2242 ,2122 ,2106 ,1960 ,1889 ,1888 ,1820 ,1325, and 2493—and is bolstered by a number of related normative frameworks, which make up the broader women, peace, and security (WPS) agenda.

او تجربې د لوړولو له لارې د هغو ښځو د ملاتړ په برخه کې مرسته کوي چې د جګړو او بحران څخه آغېزمنې شوې وي. د پوهاوي په دا ګډه کې پر ښځو، ښځو پر مدني ټولنه او حقونو پر مدافعینو د آغېزو په ګډون پر ښځو، سولې او امنیت د آجنډا پر ټولو ساحو د کووید-۱۹ وبا اغېزو په هکله د پام وړ مهم بحث د اساس په رامنځ ته کولو په وسیله د پورته ذکر شوي هدف د ترلاسه کولو سره مرسته کوي.

## شرایط او پر جنډر یې د پام وړ اغېزې

په ۲۰۱۵ کال کې د ملګرو ملتونو امنیت شورا د ښځو، سولې او امنیت په اړه د اتم پرېکړه لیک په تصویب سره منلې ده چې د وبا خپرېدونکې ناروغۍ د نړیوالتوب د چټکې ودې له کبله په امنیتي او سوله ییز چاپېریال کې یو له مهمو ګواښونو څخه ګڼل کېده[۳]. د همدې کال په جریان کې افغانستان هم په خپل وار سره د (۲۰۱۵- ۲۰۲۲) کلونو لپاره د ۱۳۲۵ نمبر پرېکړه لیک په هکله خپل ملي کاري پلان تصویب کړ. ملي کاري پلان په افغانستان کې له زیانمننې نیولې بیا د جنسي تیري او جنډر پر بنسټ تاوتریخوالي ترځنګ عدالت، روغتیایي مراقبت خدمتونو، ښوونې او روزنې، او کاري فرصتونو ته د محدود لاسرسي له کبله د جنډر د پامه غورځولو په ګډون پر ښځو او مېرمنو د وسلوالو جګړو اغېزې په مفصل ډول تشریح کوي.[٤] ملي کاري پلان د مرستې او ژغورنې اړوند حکمونو په چوکاټ کې د ښځو لپاره د کافي اقتصادي سرچینو نشتوالی تربحث لاندې نیسي او د همدې موخې لپاره د تمیولي مېکانیزمونو د رامنځ ته کولو، اقتصادي پرمختیایي فرصتونو، او په مساوي ډول د مرستې او ژغورلو اړوند خدمتونو د وړاندې کولو غوښتنه کوي. [٥]

په عمومی ډول په افغانستان کې د جنډر اړوند موجودې نابرابرۍ چې د دوامدارو وسلوالو جګړو او بشري ناورین له کبله رامنځ ته یا نورې هم پراخې شوې دي ښایي چې د کوید-۱۹ وبا په ترڅ کې یادې نابرابرۍ نورې هم پراخې شي.[٦] د ملګرو ملتونو عمومي منشي د امنیت شورا ته په خپل وروستي وړاندې کېدونکې راپور کې پر ښځو او مېرمنو د دوامدارو وسلوالو جګړو اغېزې په ګوته کړې دي چې د ښځو او ماشومانو په ګډون ۴۲ سلنه یې ملکي تلفات تشکیلوي.[۷] سره له دې چې په دې برخه کې د ارقامو او راپور ورکولو اړوند مالومات په لاس کې نشته، خو د جګړو د فشار په ګډون د جنسي تیري او جنډر پر بنسټ تاوتریخوالی د اندېښنې وړ موضوع ګڼل کیږي. د یادونې وړ ده چې په افغانستان کې «دوامداره بې‌ثباتي، د جنډر اړوند نابرابري، کډوالي/بېځاینه کېدل، غېرې کافي خدمتونه، د لاسرسي پر وړاندې خنډونه او له تبعیضه ډک فعالیتونه» د جګړو له امله د جنسي تیري اړوند د راپور د نه ورکولو سره مرسته کوي[۸] ملګري ملتونه د ښځو او نجونو پر وړاندې د جنسي او جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالي هغه قضیې ثبتوي چې د جګړې ښکېل لوري یې په ارتکاب تورن شوي دي[۹] په پای کې د شخړو له امله د ښځو د حقونو مدافعینو بېځایه کېدل،[۱۰] او همدارنګه د ښځینه مشرانو او حقونو مدافعینو پر وړاندې دوامدار پلان شوي بریدونه او هدفي وژنې د هغو ستونزمنو شرایطو څرګندونه کوي چې ښځې د خپل ژوند په بیه په یادو شرایطو کې کار کوي. دا او دېته ورته نور هغه تمایلات چې د جنډر اړوند په تېرو دوو پوهاوېو کې تصریح شوي دي او د کوېډ-۱۹ وبا پرمهال د یادو شرایطو د لا خرابېدو لپاره د پام وړ ګواښ بلل کیږي.

د فبرورۍ په میاشت کې د طالبانو او متحده ایالتو ترمنځ د سولې تړون له لاسلیک وروسته د احتمالي بین‌الافغاني خبرواترو په ګډون د کوېډ-۱۹ وبا هم د حساسو سیاسي شرایطو په درشل کې د خپرېدو په حال کې ده. په داسې حال کې چې د افغان دولت لخوا د مرکچي ټیم د ټاکلو په ګډون په دې برخه کې پرمختګ چټک شوی دی، خو هممهاله د کوېډ-۱۹ وبا په خپرېدو سره د ملګرو ملتونو عمومي منشي د یاد ویروس سره د مبارزې لپاره د عمومي غبرګون او یووالي د ملاتړ په برخه کې د نړیوال اوربند غوښتنه کړې ده. د تېر په څېر نن هم افغان ښځینه مشرانې، فعالینې او مدني ټولنې استازې له تناقض پرته په ډېر جرأت سره مبارزه کوي، ترڅو د دوی غږ واورېدل شي، لومړیتوبونه یې په پام کې ونیول شي او په افغانستان کې سولې او ثبات ته د رسېدو په پروسو کې د پراخ حضور او ګډون له لارې د دوی استازیتوب ومنل شي. د وبا اړوند غبرګونونو په ګډون د سولې او ثبات په پروسو کې د دوی د نفوذ د دوام پر وړتیا د کووید-۱۹ وبا د اغېزې په هکله

[3]United Nations Security Council Resolution 2015) 2242) recognizing global nature of pandemics as part of the evolving peace and security landscape. See also UN Secretary-General's policy brief: The impact of COVID19- on women (9 April 2020)
[4]Afghanistan's National Action Plan on UNSCR 2022-2015) 1325) (hereinafter NAP 2022-2015) 1325), page 2. See also Afghanistan's National Action Plan on UNSCR 1325 Phase II (2022-2019) (hereinafter NAP 1325, Phase II (2022-2019), pages 8-6, pillar 1, strategic objective 2.
[5]Ibid., NAP 2022-2015) 1325), page 7 and NAP 1325, Phase II (2022-2019), page 9-8, pillar 4, strategic objective 4.
[6]See UN Secretary-General's policy brief: The impact of COVID19- on women (9 April 2020); Njoki Kinyanjui, COVID19-: a double burden for women in conflict settings, London School of Economics (23 April 2020); Gender Implications Of Covid19- Outbreaks In Development And Humanitarian Settings, Care (April 2020).
[7]Report of the Secretary-General on the situation in Afghanistan and its implications for international peace and security (S/2010/2020), para. 36.
[8]Ibid., para 80.
[9]Report of the Secretary General on conflict-related sexual violence (S/280/2019).
[10]Report of the United Nations Special Rapporteur on the situation of women human rights defenders (A/HRC/60/40).

بایـد بـاوري کـړای شي چـې یـادې پروسـې او غبرګونونـه د ښـځو حقونـه خونـدي او زیاتېدونکـي اړتیـاوو تـه یـې ځـواب وایـي.

## د پام وړ مسایل

د ښـځو، سـولې او امنیـت اجنـډا او پـلي کـول بایـد د وبـا، امنیـت، روغتیـا او بـشري غبرګونونـو پـه څېـر بېړنیـو حالاتـو پـه تـرځ کـې یـو لـه اساسـي لومړیتـوب څخـه وي.[11] د ښـځو، سـولې او امنیـت د اجنـډا شرایـط پـه مـدني چاپېریـال او ښـځو د مـدني ټولنـې او سـوله غوښـتونکیو ښـځو پـه منظـور د خوندیتـوب میکانیزمونـو پـه برخـه کـې دوامـدارې پانګوونـې تـه اړتیـا لـري. پـر دې سربېـره، د وبـا پـه غبرګونونـو کـې بایـد د ښـځو د پـام وړ ګـډون او رهـبرۍ ترڅنـګ د برابـرۍ سـاتنې او وبـا د مخنیـوي لارې چـارې شـاملې وي. دا کار ځکـه د اهمیـت وړ دی چـې افغـان دولـت هممهالـه د طالبانـو سره د جګـړې د پـای تـه رسـولو لپـاره یـوې هوکـړې تـه د رسـېدو پـه موخـه د بین‌الافغـاني خبرواتـرو پـه لـور ګامونـه اخـلي.

پـه افغانسـتان کـې د سـولې او امنیتـي پروسـو پـه اړونـده پرېکـړو کـې د ښـځو پـراخ ګـډون نـه یـوازې د کویـډ-۱۹ وبـا پـر وړانـدې حـل لارې او غبرګونونـه د هغـو نیمګړتیـاوو ډکـول بـاوري کـوي چـې د جنـډر اړونـد پوهـاوي پـه دې او مخکینیـو ګـڼو کـې یـې یادونـه شـوې ده، بلکـې پـه افغانسـتان کـې د اوږدمهالـه سـولې د بـاوري کولـو ترڅنـګ ښـځې کـولای شي چـې د افغانسـتان د راتلونکـي پـه هکلـه پـه تـرسره کېدونکـي پرېکـړو کـې د ګـډون لـه لارې لـه خپلـو حقونـو اسـتفاده وکـړي. متوازنـې ببړنـۍ عامـه روغتیایـي اندېښـنې او اوږدمهالـه اغېـزې چـې د سـولې هراړخیـزې خـبرې اتـرې او تـړون یـې د افغانسـتان پـه راتلونکـي درلـودای شي یـو لـه مهمـو اساسـي کارونـو څخـه ګڼـل کیـږي. د لانـدې ذکـر شـویو برخـو پـه تـرخ کـې د ښـځو، سـولې او امنیـت هغـه لومړني مسـایل وړانـدې کیـږي چـې د شریکانـو لـه اصـلي اندېښـنو څخـه بلـل کیـږي.

## په بین‌الافغاني خبرواترو کې د ښځو اغېزمن ګډون

سره لـه دې چـې د تېـرو ۱۹ کلونـو پـه تـرخ کـې د افغانسـتان پـه عامـه او ټولنیـز ژوندانـه کـې د ښـځو د اسـتازیتوب او ګـډون پـه برخـه کـې پرمختګونـه شـوي دي، خـو د قانـون پـر وړانـدې تسـاوي، پـراخ ګـډون، تاوتریخـوالي پـر وړانـدې د مصونیـت او خوندیتـوب، او د اړتیـاوړ او ټولنیـزو خدمتونـو تـه د لاسرسي پـه ګـډون د سـولې پروسـه کـې د ښـځو د پـراخ حضـور اړونـد بنسـټیزې برخـې لا هـم پـر خپـل حـال پاتـې دي.[12] د جګـړې د حـل او سـولې پـه هلوځلـو کـې یـادې دوامـدارې ننګوونـې او ښـځو د پـراخ حضـور نشـتوالی د شـاتګ پـه مانـا دی، پـه ځانګـړي ډول تـر کومـه بریـده چـې د طالبانـو سره د سـولې پـه خبرواتـرو او د دوی د حقونـو د ملاتـړ پـه اهمیـت او هراړخیـز بین‌الافغـاني ډیالـوګ د هڅـو پـه دوام پـورې اړه لـري.

## مستقیم ګډون، حضور او ائتلاف جوړول

کـه څـه هـم چـې د رسـمي مرکچـې پـلاوي پـه لومړنـۍ ګومارنـه کـې پنځـه ښـځې شـاملې دي،[13] خـو د پیوسـتون پـه هکلـه ملاحظـات او ښـځو د حقونـو د خوندیتـوب ترڅنـګ پـه مذاکـراتي ټیـم کـې د ښـځو د پـراخ حضـور او سلامشـورې لـه هغـو برخـو څخـه دي چـې مشـترکو هڅـو تـه اړتیـا لـري. د کویډ-۱۹وبـا پـه پایلـه کـې تـګ راتـګ او عامـه ناسـتې محـدودې شـوې دي. د یادونـې وړ ده چـې یـادو محدودیتونـو پـه احتـمالي بین‌الافغـاني خبرواتـرو کـې د پـراخ حضـور او نفـوذ پـه ارتبـاط د مېکانیزمونـو او لاروچـارو د تسـهیل پـه موخـه د ښـځو پـه مـدني ټولنـه کـې د ایتـلاف جوړولـو پـر وړانـدې نـوې ننګوونـې ایجـادوي. پـر دې سربېـره، د خونـدي مـدني چاپېریـال رامنځتـه کـول او شـفافیت درلـودل بـه هـم د دې لپـاره د پـام وړ وي، ترڅـو بـاوري کـړي چـې د طالبانـو سره سـولې تـه د رسـېدو پـه موخـه د پـلان جوړونـې روانـه پروسـه پـراخ ګـډون منعکـس کـوي.

تـر دې مهـال ډېـرې سـتراتیژۍ د هراړخیـزې سـاتنې او پالنـې د ودې او پرمختـګ پـر هغـو مېتودونـو او نمونـو متمرکـزې دي چـې شـخصي ګـډون، ډیپلوماسـۍ او ډیالـوګ تـه اړتیـا لـري. د اعتـماد جوړونـې، د اوربنـد د امکاناتـو، بـشري مرسـتو تـه د لاسرسي، زندانیانـو د تبادلـې او دېتـه ورتـه نـورو موضوعاتـو پـه ګـډون ټـول لوبغاړي بـه مکلـف وي چـې د ښـځو او نـورو ګروپونـو د وړتیـا د پراخـوالي پـه موخـه د اوسـنیو سـتراتیژیو سره ځانونـه د دې لپـاره عیـار کـړي، ترڅـو د سـولې اړونـد ټولـو اساسـي مسـایلو، سـوله ییـزې حـل لارې پـه لـور د جګـړې د خـواوو پـه هڅـو کـې ګـډون وکـړي، پـر هغـې نفـوذ ولـري او څارنـه یـې وکـړي. بالاخـره پـه داسـې حـال کـې چـې پـه آنلایـن بڼـه د سـولې اړونـد خبرواتـرو پـه لـور د آسـانتیا برابـرول ګړنـدي کیـږي، نـو لازمـه ده چـې پـه افغانسـتان کـې ټکنالـوژۍ تـه محـدود لاسرسـی درک او د اړتیـا سره سـم د ټولـو ګـډون او حضـور تـه پـه ابتـکاري او ځانګـړي ډول ځـواب ووایـي. د یادونـې وړ ده چـې د هېـواد د ټولـو وګړیـو لـه

[11]UN Secretary-General's policy brief: The impact of COVID19- on women (9 April 2020). See also United Nations Security Council Resolution 2015) 2242) recognizing global nature of pandemics as part of the evolving peace and security landscape.
[12]For an overview of the "building blocks" required for women's meaningful participation in peace processes, see UN Women, Report of the Expert Group Meeting on Women's Meaningful Participation in Negotiating Peace and the Implementation of Peace Agreements (2018).
[13]"UN Envoy Welcomes Afghan Negotiation Team," TOLO News, 1 April 2020 (accessed 5 May 2020).

جملې څخه يوازې ۱۴٪ يې انټرنېټ ته لاسرسی لري، ځکه چې په هېواد کې د آنلاين اړيکو نيولو مهارت تر ډېره بريده تر ښاري سيمو پورې محدود دی.[١٤]

## په محلي کچه د تلپاتې سولې او ثبات پر وړاندې ننګوونې

د ښځو پر تګ راتګ او اغېزمنو عمومي روغتيايي خدمتونو د ترلاسه کولو په موخه پر راتوليدو د لا ډېرو محدوديتونو وضع کول په دې مانا دي چې د ښځو اړونده هغه سازمانونه چې مخکې يې د ښځو د ايتلافونو او غورځنګونو د جوړولو په برخه کې فعاليت درلود، ترڅو باوري کړي چې په هر ډول راتلونکو بين‌الافغاني خبرو اترو کې به د دوی حقونه منعکس کيږي، اوسمال د ډېرو لاملونو له کبله په تېه ولاړ دي. بايد وويل شي چې د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو د دفتر هغه شريکان چې په ولسواليو او ولايتونو کې فعاليت کوي اوسمهال يې د سولې راوستلو هڅې او هغه پروګرامونه درولي دي چې د خپلو حقونو د ملاتړ په موخه به يې د ښوداه يا لږ سواد لرونکيو ښځو د رول پياوړي کولو سره مرسته کوله او هم يې په ملي کچه د سولې په هکله د دوی د مهارتونو لوړولو او ليډلريو پروګرامونه ځنډولي دي. په همدې وخت کې د ښځو اړوند يو شمېر هغه سازمانونه چې د اړتيا له مخې د ټولنو لپاره ځانګړې شوي دي او د همغو ټولنو بېړنيو اړتياوو ته ځواب وايي، له فعاليته لاس په سر شوي دي. ياد واقعيتونه د ښځو اړوند هغو فعالو سازمانونو د فعاليت، مالي سرچينو او خونديتوب پر وړاندې د خطرونو سبب کيږي چې دغو ننګوونو د حل په منظور ثابت ملاتړ ته اړتيا لري. د کويډ-۱۹ وبا د داسې يوې سناريو د رامنځ ته کېدو باعث کيږي چې له مخې يې فزيکي واټن او عامه روغتيايي تدابير حتماً د افغان سولې د پروسې د پرمختګ په درشل کې په دغه حساس پړاو کې د سازمان دغه خوځښت د ځنډ او ځنډ سره مخامخ کوي.

پورته ذکر شوي ننګوونې تر هغو اساسي تخنيکي، عملياتي او مالي ستونزو پورې هم پراخيږي چې د دغې مودې په ترځ کې وړاندې شوي وي. د ښځو اړوند مدني ټولنې سازمانونه، بشري حقونو مدافعين، قربانيانو اتحاديې او نور شريکان به په استثنايي ډول ملاتړ ته اړتيا ولري، ترڅو له ډېرېدونکي انفرادي اقتصادي، ټولنيزو او نورو فشارونو په ګډون په افغانستان کې د پلي کېدونکو پروګرامونو پر وړاندې د پرتو ننګوونو څخه بريالي راووځي. د امکان تر بريده، د ښځو د سولې او بشري مرستو د وجهي صندوق په څېر د کوېډ-۱۹ وبا پر وړاندې د بېړني غبرګون مسووليت (وېنډو) نوښتونو ته چې افغانستان يې يو له په شرايطو برابرو هېوادونو څخه دی بايد د سوله غوښتونکو ښځو سره د اړتيا وړ لا ډېر ملاتړ په منظور پراخ او محلي بڼه ورکړل شي.

## د دولتي امنيتي ځواکونو او پوليسو لخوا د ټولبند د اوامرو تنفيذ او د ښځو پر مدني ټولنه او حقونو پر مدافعينو يې اغېزې

د نړۍ په کچه د پراخ ځواک د کاروني په ګډون د پوليسو لخوا په زياتېدونکي ډول د حقونو څخه د سرغړونو، په ځانګړي ډول د زيان‌منونکو ګروپونو د په نښه کېدو او همدارنګه د کوېډ-۱۹ وبا پر وړاندې د دغو زيان‌منونکيو ګروپونو د خونديتوب په منظور د اقداماتو په اخيستلو کې پاتې راتلو په اړه راپورونه ورکړل شوي دي.[١٥] د دغې مودې په ترڅ کې په ځانګړي ډول د تاوتريخوالي څخه د ژغورل شويو (قربانيانو) کسانو لخوا خدمتونو ته د لاسرسي او پوليسو او قضايي خدمتونو سره تعامل اړوند مسايل د پوهاوي په مخکينۍ ګڼه کې تشريح شوي وو.[١٦] په هر صورت، په افغانستان کې د ښځو په ګډون د حقونو مدافعين، ژورناليستان، مدني فعالين، سياسي او ټولنيز مشران او ښځينه خوځښتونو مخکښ غړي/غړې هم د دوی د کار او فعاليت له امله د عمومي ځورونې، تاوترخوالي د ګواښونو، مستقيم هدف ګرځولو او ترور ترڅنګ د جنډر اړوند دوديزو نورمونو د ننګوونو او نمونو په ګډون په دواړو عمومي او خصوصي چاپېريال کې د پام وړ تاوتريخوالي سره مخامخ دي.[١٧] پورته ذکر شوي ننګوونې د هغو ښځو په برخه کې ډېرې د پام وړ دي چې په سياسي موقفونو کې قرار لري او يا هم د پوليسو يا وسلوالو ځواکونو په ليکو کې دنده ترسره کوي او يا هم په نورو سکټورونو او مدني ټولنې په برخه کې په کار بوختې دي.

په داسې حال کې چې د ښځو پر وړاندې د روانو سرغړونو او تاوتريخوالي د نورو ډولونو په برخه کې معافيت لا هم پر خپل ځای دی، د پوليسو او امنيتي ځواکونو لخوا د عمومي ټولبند اوامرو تنفيذ ورعلاوه کول کولای شي چې ښاريان، په ځانګړي ډول ښځې او نور زيان‌منونکي ګروپونه د واک څخه د ناوړه ګټې اخيستنې او مرستې د غوښتلو مرجع د نشتوالي له

---

[14]See Individuals using the internet, World Bank (accessed 5 May, 2020).
[15]Gender Alert on COVID 19 in Afghanistan | Issue II: Ensuring Access to Services for Survivors of Violence Against Women and Girls, UN Women (30 April 2020).
[16]For one example, see Violence against Women in Afghanistan's 2018 Parliamentary Elections, UN Women and Afghanistan Research and Evaluation Unit (AREU) (2019) and Violence Against Women in Elections in Afghanistan: An IFES Assessment, International Foundation for Electoral Systems (2019).
[17]For one example, see Violence against Women in Afghanistan's 2018 Parliamentary Elections, UN Women and Afghanistan Research and Evaluation Unit (AREU) (2019) and Violence Against Women in Elections in Afghanistan: An IFES Assessment, International Foundation for Electoral Systems (2019).

کبله د قربانۍ د لا ډېر خطر سره مخامخ کړي. دغه شرایط همداشان کولای شي چې د راپور ورکولو د نشتوالي او د دا ډول سرغړونو لخوا اغېزمنو کسانو ته د لاسرسي د نشتوالي له کبله د سرغړونو د ثبت او پر وخت د ټاکلیو موخو د کشف مخه ډب کړي. باید باوري کړای شي چې د تنفیذ وړ اوامر واضح او د ملي او نړیوالو قوانینو مطابق د څارنې او ځواب ویلو د څرګندو مېکانیزمونو سره سم اعلان شوي دي. د هغو امنیتي ځواکونو ترمنځ له قانون څخه لازمه پیروي او څارنه باوري کولو په موخه چې د ټولبند اوامر تنفیذوي، د امنیتي پالیسیو په طرحه او د خطر مېزان د راټیټولو ستراتیژیو په برخه کې د ښځو او ټولنې د زیانمنونکو غړیو شریکول، د ځواب ویلو په برخه کې تر ټولو مهم لومړنی ګام ګڼل کیږي.

## مرسته او ژغورنه: د بشري همکارۍ په طرحه او وړاندې کولو کې د ښځو رهبري او اغېزمن ګډون

د کوید-۱۹ وبا د غبرګون په شرایطو کې لازمه ده چې نه یواځې د مرستې او ژغورنې د پروګرامونو په طرحه او پلې کولو کې د ښځو اړتیاوو ته ژمنتیا په پام کې ونیول شي، بلکې دوی باید پر وخت او ډېرې وختونه په دغو پروګرامونو کې ګډون ولري. د بشري مرستو د غبرګون په پلانولو، رهبرۍ او وړاندې کولو کې د ښځو د بشپړ ګډون باوري کول هغه غبرګون ته په شکل ورکولو او وړاندې کولو کې لازم ګڼل کیږي چې د سړیو او ښځو دواړو بشري اړتیاوې پوره کوي.

د هغو خوځښتونه یادونه چې د پوهاوي په مخکینې ګڼه کې مطرح شوي وي، لومړۍ ګڼه: په افغانستان کې د کوید-۱۹ وبا په هکله د جنډر اړوند پوهاوی: د جنډر اړوند حساس بشري غبرګون باوري کول، پر وخت مالومات د دې څرګندونه کوي چې د تاوتریخوالي د زیاتېدونکې کچې ته په پام سره ښځې او نجونې د کوید-۱۹وبا له امله له روغتیا نیولې تر اقتصاد او امنیت نیولې تر ټولنیز خوندیتوب پورې د متفاوتو او زیاتو خطرونو سره مخامخ دي. پر دې سربېره، د اټکل له مخې د دغې خپرېدونکې وبا په پایله کې به د جنډر پر بنسټ تاوتریخوالي د پای ته رسولو په لور پرمختګ کې یو پر درې کموالی رامنځ ته شي.[۱۸] په داسې حال کې چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د کچې د لوړېدو ټمه کېږي، خوځښتونه/ډینامیک هم د پېچلتیا په حال کې دي ځکه چې د کوید-۱۹ وایروس شاید د ناوړه ګټه اخیستونکو لخوا د یو ګواښ په توګه د دې لپاره وکارول شي، ترڅو د خطر افشا کولو په موخه د مرستې غوښتلو په منظور د ښځو له نیمګړتیا یا ضعف څخه ناوړه ګټه پورته کړي. د جنډر اړوند پوهاوي په مخکینۍ ګڼه [۱۹] کې یادونه شوې چې د پولیسو اړوند اړینو اقداماتو، عدالت او روغتیایي خدمتونو ته د لاسرسي په موخه زیاتېدونکې ننګوونې باید مشخص او په ګوته کړل شي.[۲۰] د مخنیوي د لاروچارو ترڅنګ پر خوندیتوب د تمرکز د وړتیا نشتوالی د بدلون وړ تغیراتو امکانات محدودوي. په افغانستان کې له جګړې څخه د بېځایه شویو ۶۵۰۴۵ کسانو له جملې څخه یې ۷٪ په لرو پرتو ستونزمنو سیمو کې بېځایه شوي کسان دي چې په پایله کې یې د زیانمننې او روغتیایي او نورو خدمتونو ته د لاسرسي د مخنیوي کچه لوړیږي. [۲۲]

باید وویل شي چې هم‌مهاله، ښځې د ناورین په شرایطو کې د لنډمهاله اقتصادي پروګرامونو په څېر د بشري اقداماتو په ګډون د مرستې او ژغورنې په طرحه او وړاندې کولو کې په فوق‌العاده ډول له پامه غورځول شوي دي. د ښځو لخوا د مطرح شویو لومړیتوبونو په هکله د دوی سره د سلامشورې یا اقدام په برخه کې پاتې راتلل هغه پایلې د خطر سره مخامخ کوي چې نه یوازې دا چې پایښتونکې نه دي بلکې په اوږده مهال کې د جنډر د نابرابرۍ د لا پراخېدو سبب کیږي. د وبا اړوند پلان جوړونه او غبرګون کې د ښځو د لازم استازیتوب پرته به د ښځو ځانګړې اړتیاوې تر ډېره بریده لاینحل پاتې شي. د پوهاوي اړوند په دې او تېرو ګڼو کې د تشخیص شویو او بحث شویو تمایلاتو په ارتباط ارزونه، همغږي او ځواب ویل شریکانو ته فرصت ورکوي، ترڅو د دې لپاره په مشترکه توګه کار وکړي چې په بېړنیو حالاتو، منځ‌مهاله او اوږدمهاله مودې په ترځ کې په خپلو غبرګونونو کې د ښځو بشري حقونه او جنډر اړوند ملاحظات منسجم کړي.

## په وبایي غبرګونونو کې مقطعي تبعیض او له پامه غورځول شویو ګروپونو شاملول

د جنډر اړوند پوهاوی په ټولو ګڼو کې په افغانستان کې د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو دفتر لخوا د ښځو د اړتیاوو د تحلیل او ارزونې او همدارنګه د مربوطه غبرګونونو په ډیزاین کې د اغېزمنې رهبرۍ او تجربې په موخه د مقطعي تبعیض

[18]Impact of the COVID19- Pandemic on Family Planning and Ending Gender-based Violence, Female Genital Mutilation and Child Marriage Pandemic threatens achievement of the Transformative Results committed to by UNFPA, UNFPA (27 April 2020).
[19]Gender Alert on COVID 19 in Afghanistan | Issue II: Ensuring Access to Services for Survivors of Violence Against Women and Girls, UN Women (30 April 2020).
[20]UN Secretary-General's policy brief: The impact of COVID19- on women (9 April 2020).
[21]See Internal Displacement due to Conflict, OCHA (accessed 5 May 2020) outlining that among those displaced by conflict 20 per cent men, 21 per cent adult women, 60 per cent children under the age of 18.
[22]Internal Displacement due to Conflict, OCHA (accessed 5 May 2020).

(توپیر) د روښونو د لومړیتوب اړتیا مطرح کړې ده. د دې لپاره باید په افغانستان کې د ښځو متفاوت موقفونه او شرایطو درک او تشخیص کړای شي. په دې کې د زیات عمر لرونکې ښځې، فزیکي او رواني معلولیت لرونکې، کور ناستې ښځې، محبوسې ښځې، بېرته راستنې شوې کډوالې، پناه غوښتونکې، کډوالې او داخلي بېځایه شوې ښځې شاملېږي، خو تر دوی پورې نه محدودېږي. د کوېډ-۱۹ وبا یوه له تر ټولو اساسي آغېزه د ټولنې په اشتراک او هغوی چې د سولې په رامنځ ته کېدو او خپرېدونکې وبا اړوند هڅو کې تر ټولو ډېرې آغېزمنونکې دي اړه لري، د ولسوالی، محلي او آن د ولایت په کچه پر مستقیم اشتراک د محدودیت وضع کول دي. د لومړنیو خدمتونو او مرستې د وړاندې کولو پرته، پر نړیوالو سازمانونو او غېرې دولتي او مدني ټولنې د سازمانونو پر ګرځېدو راګرځېدو وضع شوې محدودیتونه په دې مانا دي چې ټکنالوژۍ ته د هغو خلکو لاسرسی چې لږ یا هم په دې برخه کې هېڅ امکانات نه لري تقریباً ناشونی دی. فعالیتونو د دوام په موخه د مخ پر ډېرېدونکو آنلاین یا ټیلیفوني اړیکو له لارې د پلي کوونکو شریکانو سره د ملاتړ زیاتوالی او مدني ټولنې د سازمانونو سره تخنیکي او عملیاتي ملاتړ یو له هغو لنډمهاله ګامونو څخه دی چې باید پورته کړل شي.

## د پام وړ مسایل

لاندې لومړنۍ سپارښتنې د ښځو، سولې او امنیت اړوند فعالیتو په موخه عمومي اړتیا منعکس کوي، ترڅو په افغانستان کې د ښځو، سولې او امنیت د اجنډا پر تطبیق د کوېډ-۱۹ وبا اړوند اغېزو د همغږۍ او مستقیمې پاملرنې مېزان لوړ کړي. د دغو لنډو مالوماتو په تعقیب به په افغانستان کې د ښځو په چارو کې د ملګرو ملتونو دفتر د ډیالوګ لپاره زمینه برابره او د نړیوالو او ملي شریکانو د ملاتړ په موخه به وضعیت ارزیابي کړي، ترڅو د ښځو، سولې او امنیت د اجنډا سره سم د ښځو او نجونو د ژوندانه په واقعي اغېزو کې د غبرګونونو پایله باوري کړي.

ملي او نړیوال لوبغاړي/فعالین کولای شي چې د لاندې ذکر شویو فعالیتونو له لارې د خپرېدونکې وبا د ډېزان او وړاندې کولو په ګډون په سوله، امنیت او بشري پروسو کې د ښځو او ښځو د مدني ټولنې په پراخ حضور او اشتراک کې ښه والی رامنځ ته کړي:

١. د کوېډ-۱۹ وبا د ناورین پرمهال پر پروګرامونو د محدودیتونو په ګډون د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ نمبر پرېکړه لیک (۲۰۱۹-۲۰۲۱) سره سم د افغانستان د ملي کاري پلان د دوام څخه ملاتړ کول.

٢. په بین‌الافغاني ډیالوګ کې د ښځو د ګټور ګډون اړوند اوسنیو ستراتیژیو سره ځانونه عیار کړي، ترڅو د پوهاوي په دغه ګڼه کې د تشخیص شوي متفاوت لاسرسي په منظور د مستقیم او مشورتي اشتراک یا ایتلاف جوړولو په منظور د ټکنالوژیکي نوښتونو او نویو ستراتیژیو په ګډون د ښځو د بشري حقونو خوندیتوب او هغې ته ووده ورکول باوري کړي.

٣. په افغانستان کې د ټولبند اوسني شرایطو د تحلیل په موخه د ښځو او ښځو د مدني ټولنې سازمانونو ګډون او د بشري حقونو د لا ډېر ملاتړ په برخه کې د امنیتي سکټور لپاره د عملیاتي اصولو د مرستې څرنګوالی تربحث لاندې نیول.

٤. د کوېډ-۱۹ وبا په شرایطو کې د ښځو د بشري حقونو د مدافعینو لپاره د خوندیتوب د میکانیزمونو په موخه فرصتونه په پام کې نیول او د هغو تمایلاتو ثبتول چې د دوی په خوندیتوب پورې اړه لري.

٥. د ټولبند د مبارزې په موده کې د پلي کوونکیو شریکانو د ملاتړ په موخه د اضافي ملاتړ د تأمین او پروژو د تطبیق د نورو تدابیرو په ګډون د ښځو د مدني ټولنې د سازمانونو لپاره د چټکو او انعطاف منونکیو تمویلي فرصتونو د امکاناتو برابرول. د امکان تر بریده، د ښځو د سولې او بشري مرستو د وجهي صندوق په څېر د کوېډ-۱۹ وبا پر وړاندې د بېړني غبرګون مسوولیت (وینډو) نوښتونو ته چې افغانستان یې یو له په شرایطو برابرو هېوادونو څخه دی باید د سوله غوښتونکو ښځو سره د اړتیا وړ لا ډېر ملاتړ په منظور پراخ او محلي بڼه ورکړل شي.

٦. له دې وړاندې د پوهاوي اړوند د دوو خپرو شویو ګڼو د سپارښتنو سره سم د هغو ښځو لپاره د خدمتونو وړاندې کولو دوام چې د جګړو له امله اغېزمنې او په کور د ننه بېځایه شوې وي، په ځانګړې ډول د هغو لرو پرتو سیمو د ښځو لپاره چې لاسرسی ورته ستونزمن دی.

٧. د ښځو د پراخ ګډون څخه د ملاتړ، جنډر د برابرۍ او ښځو د بشري حقونو څخه د پیروي او همدارنګه د جنډر د مهارت او تحلیل په منظور د بین‌الافغاني خبرواترو په لور د ګرڼدیتوب د هڅو په ګډون د هغو ملي او نړیوالو سازمانونو ترمنځ د سیستم په همغږۍ کې ښه والی راوستل چې د کوېډ-۱۹ وبا په جریان کې د ښځو، سولې او امنیت په برخه کې کار کوي.